ډاکټر ګل مرجان منګل ۲۰۱۷/۱۱/۰۹

کله، کله خو سړی په ځان هم بې اعتباره شي!

حکمتیار صاحب اوس نه کمونیزم وجود لری او نه هم سوسیالیزم د اردو او پولیسو پخواني صاحبمنصابان د افغانستان خلک دی، د کونډې، یاتم او د افغانستان له بیت المال څخه ورباندې مصرف شوی دی دوی حق لری چی په خپل هیواد کی دنده اجرا کړی ولس او هیواد ته کار وکړی، تاسو حکمتیار همدارنګه امریکا او ناټو دا حق نه لري چی د ولس له غوښتنی پرته دوی له دندو وباسل شی په کور کشیني.

ستاسو لپاره د یو رهبر په صفت لازمه وه چی ویلی مو وای چی غیری مسلکی کسان د له اردو او پولیسو وباسل شی نه پخوانی مسلکي کسان.

د حکمتیار همدغه خبره چی پخوانی صاحبمنصبان د په حکومت کی نه وی څه مانا لرلای شي؟ که چیرته پخوانی شوروي اتحاد ورسره کمونیزم وجود لرلای ستاسو اندیښنی د همدغه صاحبمنصبانو په اړه پر ځای وی خو اوس چی نه پخوانی شوروی اتحاد شته او نه هم کمونیزم څه خبره ده چی تاسو پخوانی افغان صاحبمنصبان په اردو یا پولیسو کی نه غواړی؟ ښاغلی حکمتیار! کله چی په نړیواله سویه کمونیزم له منځه تللی دی تاسو اوس هم د خپلو صاحبمنصبانو دنده په اردو او پولیسو کی نه منئ د خلکو سره شکونه پیدا کوی، ځکه خو د یو مقتدیر او با نفوذه مشر په صفت نه ښایي چی تاسو دا خبره وکړی او پخواني صاحبمنصبان له اردو او پولیسو څخه وشړئ. ښاغلی حکمتیار! افغان خاوره او افغان ولس د چا شخصی ملکیت نه دی چی یوازی یو ډله او یا یو شخص چی هر څه وغواړي ورباندې مامله وکړی او یا یی سرنویشت وټاکی د افغانستان د اساسی قانون له مخی هر څوک حق لری پدی خاوره کی واوسیږی، دنده اجرا کړی، خپل نظر وړاندې کړی، رایه ورکړی او ځان کاندید کړی. د افغانستان د اساسی قانون له مخی زما، ستا او د هغه صاحب منصب چی تاسو یی په اردو کی په دندې نه منی حقوق په تله تللی یو شانته دي نو څنګه تاسو ځانته بیا دا حق ورکوی چی د هغهوی په هکله د ځانه فیصله وکړي؟ موږ وایو چی دا هیواد موږ ته شوروی نه کړ جوړ پاکستان او ایران خو تکه تکه کړ لا یی ورانوی امریکا یی هم نه جوړوی دا ما و تا او همدغه صاحب منصبان دي چی جوړو به یی نو ځکه خو موږ ټولو ته پکار ده چی د پخوانیو بابولالو څخه یو بل ته تیر شو صادقانه او په ایمانداری یو بل ته لاس ورکړو یو موټی شو یو او بل ومنو متی راونغاړو خپل هیواد په خپله جوړ کړو.

ښاغلی حکمتیار! د دولت سره ستاسو جوړجاړی ورپسی ستاسو راتګ کابل ته د ستایلو دی، ولس یی ستایي همدارنګه ولس ستاسو څخه د یوې ډلی د مشر په توګه تمه نه لری چی ځان ورباندې وتړي ولس ستاسو څخه د یو ملی مشر په توګه هیله لری چی راوړاندې شئ ملی وجیبي تر سره کړئ، ځکه خو ستاسو سره نه ښایی چی په وړو وړو شیانو ځان مصروف کړی ستري دندې پر خپل ځای پریږدي خدای مه کړي دا محبوبیت چی اوس مو تر لاسه کړی دی په اوبو لاهو کړئ.

همدارنګه موږ د افغانستان د ټول ولس څخه په کلکه غواړو چی د قومي، ژبنی، سمتي، ګوندی او تنظمی خبرو باید ټول تیر شو، یوالي وساتو ځکه دوستان خو کتعاً نه لرو که همسایه دي او یا ځیني لري هیوادونه موږ ته په کمین کی ناست نه غواړی چی موږ ښه ورځ ووینو ځکه زموږ ابادی دوی د ځان په ګټه نه بولی په همدغه د بد څخه په بدتر حالت کی چی هم قرار لرو هم موږ نه پریږدي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ